
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم پنځمه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۶مه | ۶۱۷مه ګڼه

## ولایت

۴ مخ

### کونړ

په دغه ولایت کې دا مهال ۴۷۱ ښوونځي فعال دي، چې ۱۵۹۷۰۷ زده کوونکي پکې پر زده کړو بوخت دي. د یاد شمېر زده کوونکو له جملې ۶۵۷۲۹ یې نجونې دي او ۳۸۲۵ ښوونکي لري، چې ۱۸۰ یې ښځینه دي.



### کرنې وزارت: روان کال په ټول هېواد کې ۱۲ سوه ۹۰ کورنۍ باغچې جوړې شوې



د کرنې او مالدارۍ وزارت د روان مالي کال له پیله تر دې مهاله په بېلابېلو ولایتونو کې ۱۲ سوه او نوي کورنۍ باغچې جوړې کړې دي.
دغه کورنۍ باغچې هره یوه یې په یوه بېسوه ځمکه کې د کابل، بغلان، لوګر، پروان، ننګرهار، بلخ او هرات ولایتونو کې ۱۲ سوه او نوي مېرمنو ته جوړې شوې دي.
د دغو باغچو په جوړېدو سره سلګونو مېرمنو ته د کار زمینه برابره شوې، چې د دوی په ژوند کې یې د پام بدلون راوستی دی. دغه مېرمنې وایي، که د کرنې وزارت په وخت دوی ته اړینې سپارښتنې وکړي، د دوی په حاصلاتو کې به نور زیاتوالی هم راشي. دغه راز په کابل کې ۷۰ مېرمنو ته د مرغېریو د تولید ۷۰ کڅوړې چمتو او پر دوی وېشل شوې دي.

# په ټپه ولاړ مذاکرات او سیاسي ناندرې؛

## حکمتیار: طالبان له اوسني حکومت سره خبرې نه کوي، د حل لار موقت حکومت دی



۳

د داعش په نوم مشکوک بریدونه، موخې او مناسب غبرګون
۲ مخ

بین الافغاني خبرې او د ولس غوښتنې
۲ مخ

انتخابات آمریکا؛ انتظارات هند از رئیس‌جمهور بعدی آمریکا
۳ مخ

## یوناما: ښکېل اړخونه دې د روان تاوتریخوالي او جګړو د کمولو لپاره هڅې چټکې کړي

ملګري ملتونه وايي، په افغانستان کې دې د روان تاوتریخوالي د کمولو لپاره هڅې لا ډېرې شي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما په تازه څرګندونو کې په کابل کې د ورمې ورځې برید غندلی دی. په اعلامیه کې راغلي چې ترهګرو په قصدي توګه ماشومان او د ښوونیز مرکز زده کوونکي په نښه کړي دي.
سرچینه وايي چې د دغه ډول بریدونو ترسره کوونکي باید وپېژندل شي او محاکمه کړل شي. یوناما دغه راز په افغانستان کې د اوسني تاوتریخوالي په اړه اندېښنه ښودلې او وايي، دلته باید د تاوتریخوالي د کمولو او جګړو د ختمولو لپاره هڅې لا ډېرې شي. یادې ادارې هیله څرګنده کړې چې د سولې روان مذاکرات وکړی شي په افغانستان کې جګړې پای ته ورسوي او د یوه دایمي سیاسي ثبات د راتګ لپاره لار هواره کړي. په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي وايي، په افغانستان کې دې هم ښکېلې خواوې د لیبیا په څېر دایمي اوربند وکړي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش په نیویارک کې په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي چې دغه سازمان په لیبیا کې د ښکېلو لورو ترمنځ د وروستي دایمي اوربند هرکلی کوي. د ده په خبره، دغه اوربند د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب رامنځ ته شوی او په لیبیا کې به د روانې جګړې د پای ته رسېدو سبب شي. انتونیو ګوتریش ویلي چې لیبیا دې په افغانستان او نورو ښکېلو هېوادونو کې د لارې مشال وګرځول شي او په دغه هېوادونو کې دې هم ښکېلې خواوې دایمي اوربند ته غاړه کېږدي.

## حکومت او طالبان دې د روان وضعیت د پای ته رسېدو لپاره ژر تر ژره سیاسي جوړجاړی وکړي



۵ مخ

## ارګ: رابطه طالبان با شبکه‌های تروریستی هنوز هم پابرجاست



محمد اشرف غنی رئیس جمهور افغانستان به‌خاطر کشته شدن ابو محسن المصری رهبر شبکهٔ القاعده از کار نیروهای امنیتی افغان ستایش کرده است.
ریاست جمهوری افغانستان در اعلامیه به نقل از رئیس جمهورغنی نوشته که: «کشته شدن یک عضو مهم القاعده، ثابت ساخت که تهدید تروریزم و رابطه طالبان با شبکه‌های تروریستی، هنوز هم پابرجاست.»
قطع رابطه طالبان با شبکه القاعده یکی از مواد مهم «توافقنامه صلح ۲۹م ماه فبروی» امسال میان این گروه و امریکا است.
آقای غنی افزود: «طالبان باید به مردم و دولت افغانستان و جامعه بین‌المللی ثابت کنند که روابط شان را با القاعده و دیگر شبکه‌های تروریستی و گروپ‌های آنان قطع می کنند، از جنگ و خشونت دست می‌کشند و با پذیرفتن آتش‌بس دایمی، زمینهٔ تامین صلح با عزت و پایدار را در کشور فراهم می‌نمایند.»
در این حال، ریاست امنیت ملی افغانستان می‌گوید، در عملیات خاص ابو محسن المصری معاون شبکهٔ القاعده برای نیم قارهٔ هند را کشته اند. بر اساس معلومات اف‌بی‌آی، پولیس فدرال امریکا نام اصلی المصری حسام عبدالرؤف یاد کرده و او متولد مصر بوده است.
در عین حال پولیس فدرال امریکا اف‌بی‌آی می گوید، نام این عضو مهم شبکهٔ القاعده در فهرست تروریستان خطرناک شامل است. او متهم بود، که پلان کشتن امریکایی‌ها را طرح ریزی می کرد.




## دریـــځ

### د داعش په نوم مشکوک بریدونه، موخې او مناسب غبرګون

په کابل کې پر کوثر تعلیمي مرکز د برید په اړه لا هم جدي پوښتنې او شکونه شته. د دغو بریدونو پړه په ظاهره داعش اخیستې، خو په دې اړه خپره شوې اعلامیه مشکوکه ده او ځینې څېړونکو هغه جعلي بللې ده. په بغداد پوهنتون کې یو استاد حسین برزاني چې په همدې اړه څېړنې کوي، دا اعلامیه جعلي ګڼلې ده او ویلي یې دي چې اعلامیه د هغې اعلامیې کاپي ده چې داعش د افریقا په کانګو جمهوریت کې د خپلو بندیانو د خلاصون لپاره خپره کړې ده. په دغه اعلامیه کې برید د هغه برید دوام ګڼل شوی چې په کانګو کې داعش د خپلو اسیرانو د خلاصون لپاره کړی و او هغه ته یې «غزوه البوا النداء» ویلي وو. په داسې حال کې دلته نه بندیان خوشې شوي او نه هم دا ډول برید ته داعش د «غزوه» کلمه کاروي.

داعش په افغانستان کې له همغه پیله د استخباراتي کړیو لپاره د یو لاسپاک په توګه کارول کېده. هر ډول جنایت، وحشت او برید چې د سیاسي موخو لپاره کېده، د داعش په نامه به کېده، خو په اسانۍ درک کېدله چې د برید موخه څه وه او چا به کړی و. اوس هم له دې بریده ښکاري چې د مشخصو سیاسي موخو لپاره شوی او استخباراتي کړۍ پکې لاس لري. له څه وخت راهیسې په منظم او سیستماتیک ډول هڅه روانه ده چې د سولې هره هڅه شنډه شي، د جګړې دوام ته لاره برابره شي او نړیوالو او افغانانو ته داسې یو تصویر ورکړل شي چې د سولې خبرې نه بریالۍ کېږي او که بریالۍ هم شي، نو د جګړې لپاره به نورې ډلې او په ځانګړي ډول داعش وي. له همدې امله منظمه هڅه روانه ده چې د اسانه هدفونو په نښه کولو سره همدا تصویر ایجاد شي. تعلیمي مرکز تر ټولو اسانه او پاک ځای دی چې وحشیان پکې زیات وحشت کوي او غواړي د خلکو زیاته کرکه او نفرت را وپاروي او هغوی داسې غبرګون ښودلو ته اړ کړي چې ورسره د سولې پروسه تخریب شي. له همدې امله دغه ډول وحشیانه، پېچلې او خونړي بریدونه کېږي. دا به اوس ماشوم هم ونه مني چې د برچي په کوڅو کې دومره نفوذ وکړي او هلته بیا دغه ډول بریدونه وکړي. له همدې امله هر څه روښانه دي او هر څوک درک کوي چې دا بریدونه د سیاسي موخو لپاره کېږي. ان که داعش رښتیا هم کړی وي، نو داعش د دغه برید لپاره کارول شوی، څو وحشیان خپلو موخو ته ورسیږي.

اوس پکار ده چې دې برید ته غبرګون خورا منطقي او عاقلانه وي، څکه زموږ دښمن باید هغه هدف ته ونه رسیږي، چې له دې برید څخه یې ترلاسه کول غواړي. له همدې امله موږ باید په ټول قوت او ځواک د سولې غوښتنه او ملاتړ وکړو او د سولې لپاره خپل غږ، فشار او کار همداسې جاري وساتو، څو د جګړې د دوام شوقیان، زموږ د وینو تږي او د سولې دښمنان بریالي نه شي. غوره او مناسب غبرګون د سولې دوام او د جګړې مخالفت دی او دا د هر افغان دنده او مسوولیت دی چې همدا کار وکړي.

# بین الافغاني خبرې او د ولس غوښتنې

لیکنه: شېرمحمد امیني

له دوو میاشتو زیاته موده کېږي، چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالب استازو ترمنځ بین الافغاني خبرې پیل شوې، چې تر ډېره د هېواد په دننه کې له تاوده هرکلي سره مخ شوې. افغانانو چې کلونه کلونه د سولې راتلو لپاره شېبې شمېرلې او دغه انتظار یې رالنډ شو، خو اوسمهال د ځینو مسایلو پر سر د دواړو لورو ترمنځ ژور اختلاف یوځل بیا له ولس او خلکو سره اندېښنې پیدا کړې.

د افغان ولس چې له څلور لسیزو ډېره موده یې په پرله پسې جنګونو کې تېره شوې، یوازینۍ هیله یې دا ده، چې یادې خبرې مثبتې پایلې ولري او داسې یوې هوکړې ته سره ورسېږي چې دا جګړه ختمه او د ولس ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي. افغان ولس د دغې ناستې په جوړېدو خوښ دی، خو په جګړه کې پر ښکېلو لورو باندې غږ کوي، چې روانه او زیانمنه جګړه دې په چټکۍ سره ودروي، څو افغانان له ناخوالو او تاوتریخوالو نه لاس پر سر او په یوې ارامې ټولنې کې د نړۍ د نورو ملتونو او ټولنو په څېر ژوند ته دوام ورکړي.

په دوحه کې د دولت او طالب استازو ترمنځ لانجمنې خبرې روانې دي، نو څومره، چې ممکن وي، هغومره دې ورته دواړه لوري د حل لارې ولټوي، دواړه لوري دې له خپلو هغو غوښتنو تېر شي چې له کبله یې د روان وضعیت د دوام احتمال ډېر دی، پراخه حوصله دې ولري، یو د بل خبرې دې په خورا غور سره واوري، د تېرو جنجالي مسایلو پر ځای دې پر هغو مسایلو تمرکز ډېر کړي چې دواړه لوري د جګړې د ډګر پرځای د سولې پر تغر راټول کړي. که څه هم د دې جګړې پای ته رسېدل یوڅه ستونزمن برېښي، څکه جګړه اوږده وه او مسایل خورا پېچلي، خو که بیا هم د دواړو لورو ترمنځ د سولې لپاره ژمنتیا موجوده وي، حل یې ستونزمن نه دی، نړۍ د دا ډول ډېرو اوږدو جګړو د سوله ییز حل شاهده ده. دواړو لرو ته پکار ده چې د ولسونو ګټې چې هغه د جګړې پای ته رسول دي، په پام کې ونیسي؛ څکه ولس تر هر څه د مخه د رښتیني سولې په تمه دی، چې د سولې پرته د هېوادوالو ټولې چارې ټکنۍ شوې او هېڅ افغان دې ته زړه نه ښه کوي، چې خپلې چارې په ازادانه توګه سرته ورسوي. دې جګړې موږ ته پر بشري قوې سربېره دومره اقتصادي زیانونه هم اړولي، چې جبران به یې ښایي لسګونه کاله وخت وغواړي، اوس هم که په هره اندازه دا جګړه نوره هم اوږدېږي، قرباني به یې یوازې موږ افغانان یو، موږ پکې وژل کېږو، موږ پکې تاواني کېږو، موږ پکې کډوال کېږو او بالاخره د جګړې ټول پېټی زموږ پر تېې اوږو بار دی. له همدې کبله ښکېلو اړخونو ته پکار ده چې دا ټولې ستونزې او ناخوالې په پام کې ونیسي، له شخصي، ګوندي او سمتي ګټو تېر شي، هېواد، اسلامي ارزښتونه، ملي ګټې او د ولس غوښتنې باید ورته لومړیتوب وي.

که څه هم په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو ولس د جګړې د پای ته رسېدو په پار هیله من کړی، خو له سولې سره هممهاله د جګړو او نښتو دوام او شدت بیا اندېښنې راپارولي، هره ورځ په لسګونه افغانان د دې جګړې قرباني ورکوي، په زرګونه بې ځایه کېږي او خلکو ته اندېښنې پیدا شوې که جګړې همداسې دوام کوي، ښایي د سولې له کبله یې راټوکېدلې هیلې د تل لپاره له خاورو سره خاورې شي.

د دغه دردېدلي وضعیت په مهار کې دواړه مرکچې پلاوي باید تر هر څه دمخه په هېواد کې د تاوتریخوالي د کمولو او یا هم د اوربند کولو په اجنډا کې د سر موضوع ټاکلې او پرې توافق شوې وای، خو دا چې تر اوسه دا کار ونه شو، هغه یوه مسئله ده، اما لاهم ناوخته نه دی، که اوس هم په جګړه کې د ټوپک شپېلۍ بندېږي، د ولس او جګړه ځپلو افغانانو لپاره ښه زېری کېدای شي.

اوس هم فرصت له لاسه نه دی تللی، که دواړه لوري باید روانې خبرې یوې هوکړې ته ورسوي، ژر تر ژره دې دغه ملي، تاریخي او اسلامي رسالت، چې د سولې ټینګښت دی، په هېواد کې دې پلی کړي، چې نور د وژنو او ویجاړیو لړۍ پای ومومي.

نو دواړه افغان مرکچي پلاوي دې د ستونزو او شخړو پای ته رسېدو لپاره د حللارې ولټوي، نه دا چې ستونزې نورې هم ډېرې کړي، دوی دې په خبرو کې له پوره دقت څخه کار واخلي، د پردیو خبرو او غوښتنو ته دې وخت او ځای نه ورکوي او په ازاده ډول دې د هېواد د راتلونکي لپاره تصمیم ونیسي.

د دولت او طالبانو دواړه لوري دې ملي ګټو ته ژمن پاتې شي او لکه څنګه چې زموږ نیکونو تېرې شخړې په جرګو او مرکو حل کړې دي، همداسې نن بیا اړتیا ده چې د اسلامي او هېوادنیو ګټو په پام کې نیولو سره د غمځپلو او دردېدلو افغانانو اوښکې پاکې کړي او د یوې رښتینې او پتمنې سولې په راوستو کې دغه زېرې په هېوادوالو ولوروي.

دغه آرمان ته د رسېدو لپاره دواړه پلاوي کولی شي، چې د خلکو د خیر او ښېګڼې لپاره د خدای (ج) کتاب او نبوي احادیث په نظر کې ونیسي او په هېواد کې روان ناورین ته د پای ټکی کېږدي، څو دردېدلي او ځورېدلي ولس ته د ژوندانه له اړخه هوسا او پرمختللې فضا رامنځته شي.

## دیني عالمان: په هېواد کې د قدرت ترلاسه کولو لپاره روانه جګړه حرامه ده

د افغانستان یو شمېر علما وایي، هېواد کې د قدرت ترلاسه کولو لپاره روانه جګړه حرامه ده.

په کابل کې د لویې جرګې تالار کې نږدې دوه نیم زرو راټول شویو علماوو، پر افغان حکومت او طالبانو غږ وکړ چې دواړه لوري باید په اسلامي حکومت او بهرني ځواکونو پر وتلو هوکړه وکړي او له نورو بې ځایه مواردو تېر شي.

نږدې دونیم زره افغان علما راټول شوي ترڅو د افغان سولې بهیر څخه ملاتړ وکړي او جګړې ښکېلو لوریو ته خپل وړاندیزونه وکړي. دا دیني علما وایي، په افغانستان کې روانه جګړه چې د قدرت ترلاسه کولو په موخه ده، حرامه ده نو باید طالبان او افغان حکومت دې جګړې ته د پای ټکی کېږدي.

د دغه عالمانو له ډلې عبدالقهار عابد وایي، د افغان حکومت او طالبانو مرکچي پلاوي باید پر اسلامي حکومت او له هېواد څخه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو هوکړه او له بې ځایه غوښتنو تېر شي.

هغه زیاته کړه: «ښکاره ده چې جګړې له موږ نه قرباني اخیستي او اخلي یې، نو د چوکۍ لپاره، د صلیقوي برخورد او یا اجتهادي مسایلو لپاره د افغان وینه تویول حرامه ده، مذاکرې ته چې کله کېناستئ بیا به جګړه نه بلکې خبره او هوکړه کوو.»

دې ناسته کې دیني علماوو ټینګار وکړ چې دواړه لوري باید د بین الافغاني خبرو لپاره له چمتو شوي فرصته ګټه واخلي. د علماوو دا غونډه په داسې حال کې جوړېږي چې دوحه کې د افغانانو خپلمنځي خبرو د پیل لپاره پر لومړنیو خبرو له اونیو بحثونو وروسته لا هم هوکړه نه ده شوې.

د طالبانو او افغان حکومت مرکچي پلاوي ترمنځ د اختلافي موارد څخه یو هم، د طالبانو لخوا د بین الافغاني خبرو اساس د دې ډلې او امریکا ترمنځ لاسلیک شوي هوکړه ده هغه څه چې د افغان حکومت پلاوی یې نه مني.

خو د افغانستان علماوو سرتاسري ناسته کې یو شمېر دیني علماو دا هم وویل چې د افغانانو خپلمنځي خبرو د مخ ته وړو لپاره دې طالبانو او افغان حکومت یو هم باید له امریکا سره پر شویو هوکړه ټینګار ونه کړي.

دیني عالم حبیب الله حسن وایي، افغان علما چمتو دي چې د دواړو لورو ترمنځ د قران او سنت د اصولو پر اساس پریکړه وکړي.

حسن وویل: «نن موږ د خدای د کتاب او د رسول د سنت له ادرسه، د مدارسو له ادرسه،د منبر او جومات له ادرسه دلته غږ پورته کوو چې، دواړو لورې د افغان ملت په وینه تویولو اخته دي، راشئ قران او سنت ته تسلیم شئ، دا جګړه په هېڅ کو تابوت نه تمامېږي.»

## افغان حکومت: د لویو او ملي پروژو د بشپړېدو لپاره د هېچا فشار نه منو

د افغانستان د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره د ایراني چارواکو وروستیو څرګندونو ته په غبرګون کې وایي، افغان حکومت د لویو او ملي پروژو د بشپړېدو لپاره د هېچا او د هېڅ هېواد تر فشار لاندې نه راځي.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران د اوبو د تخنیکي کمېټې غړو په خپلو تازه څرګندونو کې د کمال خان بند د جوړېدو په اړه اندېښنه ښودلې ده.

د دې کمېټې یو غړي ورمه ورځ د یوې غونډې پرمهال د دغه هېواد د اوبو او انرژۍ وزیر ته په خپلو خبرو کې وایي، د کمال خان بند په جوړېدو دی او که دغه بند جوړ شي، هغه اوبه چې ایران ته بهیږي، له دې وروسته به دغه اوبه هم بندې شي.

هغه زیاته کړې: «د کمال خان بند چارې تقریباً په خلاصېدو دي، د دې بند جوړېدل یعنې د اوبو مخه نیول، یعنې هغه ۸۵۰ میلیونه متر مکعبه اوبه چې موږ پرې ۸۵۰ میلیونه ډالره پانګونه کړې او دغه اوبه د سیستان ایالت ته راځي، یعنې زموږ دغه ټولې هڅې له منځه ځي د دې بند په جوړېدو سره یعنې موږ ته نورې اوبه نه راځي.»

ایراني چارواکو د افغانستان د اوبو په اړه دا څرګندونې داسې مهال کړې چې څو ورځې وړاندې ورځ ایران سره په پوله پروت نیمروز ولایت کې نامعلومو وسله والو د کمال خان بند پر ساتونکو حمله کړې چې له امله یې شپږ تنه ووژل شول.

د افغانستان د عامه ساتنې ملي تصدۍ دغه حمله د وسله والو طالبانو کار بللی خو طالبانو په دې حمله کې لاس لرل رد کړي دي.

د افغانستان د اوبو د مدیریت په اړه د ایران څرګندونې لومړنۍ نه دي بلکې د دغه هېواد چارواکو له دې وړاندې هم بار بار په افغانستان کې د اوبو د بندونو د جوړلو په اړه غبرګون ښودلی وو.

دوه کاله وړاندې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد جواد ظریف تازه ویلي وو چې کابل او تهران د هلمند د سیند د حق په اړه کومې موافقې ته نه دي رسېدلي او ایران اړ دی چې په دې اړه په متقابل عمل لاس پورې کړي.

په هرات کې سلما، په نیمروز کې کمال خان او په فراه کې بخش اباد د افغانستان د اوبو هغه ستر بندونه دي چې اوبه یې ایران ته بهیږي. په ورته وخت کې د افغانستان د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره د ایراني چارواکو وروستیو څرګندونو ته په غبرګون کې وایي، اوبه افغانستان د خپلو اوبو د کنترول په برخه کې ازاد لاس لري.

د دې ادارې ویاند نظام خپلواک ازادي راډیو ته ویلي: «ایران به په دې برخه کې خپلې اندېښنې لري د دې لپاره چې اوسمهال ایران ته د افغانستان څخه اوبه روانې دي، که دغه اوبه اوس یا په راتلونکې کې بندېږي نو ایران به طبعاً خپله اندېښنه لري، خو د افغانستان د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره هڅه کوي چې خپلې اوبه مهار کړي د هیچا د فشار لاندې نه راځو، چون دا زموږ قانوني حق دی، اوبه مو خپلې دي او د دې مهارول یا بندونو جوړلو زموږ کار دی او په دې برخه کې ازاد یو.»

خپلواک وایي، افغان حکومت د لویو بندونو د جوړېدو لپاره جدي اراده لري او دغه چاره په چټکۍ سره پر مخ روان وي.

د معلوماتو په اساس اوس مهال د کمال خان بند د دربیو برخو کار ۹۰ سلنه بشپړ شوی او په نږدې راتلونکې کې به د اوبو د زېرمه کولو جوګه شي.

# انتخابات آمریکا؛ انتظارات هند از رئیس‌جمهور بعدی آمریکا

بی بی سی فارسی

در مراسم اعطای تابعیتی که در کاخ سفید برگزار شد پنج آمریکایی جدید حضور داشتند، اما یکی از آن‌ها توجه من را جلب کرد، برنامه‌نویسی هندی به نام سودا سونداری نارایانان که یک ساری صورتی پوشیده بود و با لبخندی افتخار آمیز گواهی تابعیتش را نشان می‌داد.

این مراسم روز ۲۵ اگست همزمان با کنوانسیون ملی حزب جمهوری‌خواه از تلویزیون پخش شد و خیلی‌ها از آن به عنوان یک نمایش حزبی انتقاد کردند. اما گزارش رسانه‌های هندی از این رویداد نادر بسیار افتخارآمیز بود - یکی از هموطنان‌شان داشت به شخصه توسط رئیس‌جمهور آمریکا تبعه این کشور می‌شد.

سیاست مهاجرتی آمریکا برای هند و هندی‌ها مهم است. این کشور سابقه بلندی در صدور استعدادهای فنی به آمریکا دارد - افرادی که با ویزای کار به آمریکا می‌روند و در ادامه شاید آمریکایی شوند.

تماشای رئیس‌جمهور حین به رسمیت شناختن این واقعیت قطعاً برای آمریکایی‌های هندی‌تبار مایه مسرت بود، و این مراسم شاید با هدف جذب این گروه برپا شده بود. آمریکایی‌های هندی‌تبار از قدیم گرایش بیشتری به دموکرات‌ها داشته‌اند. این حرکت نمادین رئیس‌جمهور قطعاً احساسات خوبی برانگیخته است، و با افزایش عمق استراتژیک روابط دو کشور همراه بود. آمریکایی‌های هندی‌تبار می‌توانند در انتخابات ریاست‌جمهوری رای دهند، اما رئیس‌جمهور - می‌خواهد ترامپ باشد یا بایدن - چه کاری می‌تواند برای هند بکند؟

ایالات متحده نسبتاً واضح اعلام کرده است که در کجا می‌تواند به هند کمک کند. هند در منطقه لداخ که در نواحی کوهستانی شمال قرار گرفته است با چین اختلاف ارضی دارد. هر دو کشور از ماه اپریل به این طرف حدود ۵۰ هزار سرباز در این منطقه مستقر کرده‌اند، و فاصله بین نیروهای دو طرف در بعضی نقاط از ۲۰۰ متر هم کمتر است. نگرانی کارشناسان امنیتی از این است که یک اتفاق کوچک شاید به یک درگیری نظامی بزرگ منجر شود. در ماه جون، زد و خورد بین نیروهای هندی و چینی در لداخ باعث آماده‌باش نیروها و افزایش تنش بین این دو قدرت هسته‌ای همسایه شد. ایالات متحده بارها به هند پیشنهاد کمک داده است.

مایک پومپئو، وزیر خارجه آمریکا، در اوایل ماه جاری گفت که هندی‌ها باید در این دعوا با آمریکا متحد شوند و همکاری کنند. بعضی از دیپلمات‌های هندی نیز فکر می‌کنند که این کشور به حمایت ایالات متحده به منظور اعمال فشار بر چین برای تخلیه مناطقی که در دست دارد نیاز دارد. این کشور در عین حال ممکن است دنبال شریکان منطقه‌ای دیگری نیز باشد.

هند و ایالات متحده، به همراه جاپان و استرالیا، گروهی تشکیل داده‌اند به نام «کوآد» که در اوایل ماه اکتوبر جلسه‌ای برای بررسی مسائل امنیتی در توکیو تشکیل داد؛ مسئله اصلی چگونگی واکنش به رفتار چین بود. گمان می‌رود که ایالات متحده ایده تبدیل شدن این گروه به اتحادی مانند ناتو را مطرح کرده باشد.

تعمیق روابط

چنین فکری قطعاً با روند نزدیک‌تر شدن روابط دو کشور طی بیست سال اخیر هم‌راستا است. هند به طور سنتی ترجیح داده که بی‌طرف باشد، سیاستی که در طول جنگ سرد و حمله شوروی به افغانستان ادامه پیدا کرد. اما مسائل جیوپولیتیک قرن بیست‌ویکم مرام خارجی این کشور را شکلی دیگر داده است.

بیل کلینتون، رئیس‌جمهور اسبق آمریکا، در سال ۲۰۰۰ به هند رفت - نخستین سفر رئیس‌جمهور آمریکا به هند در حدود ربع قرن - و تلاش کرد که این کشور را به اتحاد با ایالات متحده دعوت کند. سفر شش روزه او نقطه عطفی در روابط هند و آمریکا محسوب می‌شد. تا پیش از آن، از این دو کشور با عنوان «دموکراسی‌های بیگانه» یاد می‌شد. امضای یک قرارداد هسته‌ای در سفر جورج دابلیو بوش به هند عمقی استراتژیک به رابطه دو کشور بخشید، و باراک اوباما دو بار به هند سفر کرد.

امسال نیز دونالد ترامپ روز ۲۵ فبروری در تجمعی میلیونی که در ستیدیوم شهر گجرات برگزار شد شرکت کرد و گفت که «رابطه دو کشور هرگز به این خوبی نبوده است.» اما با وجود استقبال هند از پیشنهاد کمک آمریکا، به نظر می‌رسد که این کشور میل چندانی به قبول آن ندارد.

بی‌میلی

دلایل متعددی می‌تواند برای این درنگ هند وجود داشته باشد. دکتر نیتاشا کااول، استادیار سیاست و روابط بین‌الملل در دانشگاه وستمینستر لندن، به تعهد آمریکا مشکوک است. او به بی‌بی‌سی گفت «بیانات لفظی دولت ترامپ ارزش چندانی ندارد، چرا که سیاست خارجی ایالات متحده دارد در جهت‌های متناقضی حرکت می کند و ترامپ دارد تعهدات جهانی آمریکا را کاهش می‌دهد. پشنهاد کمک و میانجی‌گری وقتی که چین قاطعانه آن را رد می‌کند و هند نیز اشتیاق خاصی نشان نمی‌دهد ارزش چندانی ندارد.»

به گفته او حتی اگر این پیشنهاد صادقانه باشد نیز معلوم نیست که آمریکا دقیقا چه کمکی می‌تواند در لداخ بکند. او می‌گوید «ایالات متحده می‌تواند حداکثر در حوزه‌هایی چون اطلاعات (البته محدود)، ادوات و آموزش نظامی نقش ایفا کند. این کشور همزمان دارد پیام‌هایی نمادین برای چین ارسال می کند تا از افزایش بیش از پیش تنش‌ها جلوگیری کرده باشد.» مسئله دیگر جایگاه نامناسب ایالات متحده در افکار عمومی هند است.

آمریکا چندین دهه متحد نزدیک پاکستان بود، لذا برای بخش‌های بزرگی از جامعه هند سخت است که این کشور را به عنوان دوست معتمد خود بپذیرند. پروفیسور آشوک سوآین، استاد پوهنتون اوپسالا در سویدن، می‌گوید هند نباید خیلی به آمریکا اعتماد کند، چرا که این کشور «هرگز متحد معتمد هیچ کشوری نبوده است و این رویه در زمان ترامپ واضح‌تر هم شده است. آمریکا نمی‌تواند برگ برنده هند در روابطش با قدرتی مثل چین باشد.»

حمایت دو جناح سیاسی

آقای مودی و آقای ترامپ، رهبران دو کشور، روابط شخصی نزدیک و نمادینی دارند، اما برای دیپلمات‌ها مشخص نیست که در واقعیت چه اقداماتی برای تعمیق روابط صورت گرفته است. نیلام دئو، دیپلمات سابق هندی، به بی‌بی‌سی گفت «ما در دوره ترامپ پیشرفت‌های خوبی داشته‌ایم. نخست‌وزیر و رئیس‌جمهور روابط شخصی خیلی خوبی دارند. اما روند این پیشرفت کند بوده است و باید سریع‌تر شود.»

هند تا امروز خیلی محتاطانه نه پیشنهاد کمک را رد کرده است و نه پذیرفته است. پروفیسور سوآین می‌گوید که هند منتظر نتیجه انتخابات ۳ نوامبر خواهد ماند. اما دیپلمات‌ها عقیده دارند که ما شاهد تغییرات خاصی نخواهیم بود، حتی اگر شخص دیگری راهی کاخ سفید شود.

آقای ترامپ و رقیبش جو بایدن در هر زمینه‌ای با یکدیگر اختلاف نظر داشته‌اند مگر در سیاست‌شان در قبال هند. دیپلمات‌های سابق هندی می‌گویند که سیاست ایالات متحده در قبال هند از حمایت هر دو جناح سیاسی در واشنگتن برخوردار است.

به گفته نیلام دئو «این بار اولی نیست که نامزدهای هر دو حزب جمهوری‌خواه و دموکرات موضع یکسانی در قبال هند دارند. از زمان بیل کلینتون همه رئیس‌جمهورهای آمریکا به هند سفر کرده‌اند. آقای اوباما دو بار از هند دیدن کرد. فرای این که کدام حزب در قدرت بوده است، ما شاهد پیشرفت در روابط دو کشور بوده‌ایم.» لذا به نظر می‌رسد که پیشنهاد حمایت آمریکا از هند در برابر چین حتی بعد از انتخابات نیز ادامه پیدا خواهد کرد، اما اصلا معلوم نیست که هند چگونه پاسخ خواهد داد.

# په ټپه ولاړ مذاکرات او سیاسي ناندرۍ؛

## حکمتیار: طالبان له اوسني حکومت سره خبرې نه کوي، د حل لار موقت حکومت دی



د بین الافغاني مذاکراتو له نامعلوم برخلیک سره هممهاله افغان سیاستوال پر دې باور دي چې د روانې کشالې د حل یوازینۍ لار د موقت حکومت جوړول دي. د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار چې تازه له پاکستان راستون شوی، وایي چې طالبان اوسنی حکومت نه مني او د موقت حکومت غوښتونکي دي. بلخوا د ولسمشر ویاند د حزب اسلامي د مشر پر څرګندونو غبرګون ښودلی او هغه یې غندلې دي. له دې سره هممهاله په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات په ټپه ولاړ دي او په افغانستان کې بیا روانه خونړۍ جګړه هره ورځ د لسګونو افغانانو ژوند اخلي.

سره له دې چې د بین الافغاني مذاکراتو پیل ته افغانان هیله من وو، خو د څه باندې یوې میاشتې په تېرېدو د دغو خبرو پایلې نه لرلو خلک ناهیلي کړي دي. تازه افغان سیاسیونو د سیمې هېوادونو ته سفرونه هم پیل کړي دي، څو د افغان سولې په تړاو سیمه‌ییزه اجماع پیاوړې کړي. په همدې لړ کې څو ورځې وړاندې د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار هم پاکستان ته تللی و او هلته یې له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې تر څنګ پر نورو مسایلو خبرې کړې دي.

حکمتیار کابل ته له راتګ سره سم خبري کنفرانس درلود او په دې خبري کنفرانس کې یې رسنیو ته د خپل سفر په اړه وضاحتونه ورکړل. هغه په همدې لړ کې وویل چې د سولې ملاتړی دی، خو طالبان له اوسني حکومت سره خبرو یا سولې ته تیار نه دي. د ګلبدین حکمتیار په وینا، د ستونزې د حل یوازینۍ لار دا ده چې په افغانستان کې موقت حکومت جوړ شي او طالبان به له هغه وروسته خبرو او مذاکراتو ته ادامه ورکوي. د ده په وینا، د سولې غوښتونکی دی او په دې برخه کې به هر راز هڅې کوي، خو تر هغه چې اوسني چارواکي په خپله خوښه د حکومت د ادامې غوښتونکي وي، طالبان هم ښایي تاوتریخوالی کم نه کړي او له جګړو لاس په سر نه شي.

نوموړي د سولې پر روان بهیر هم نیوکه کړې ده. هغه ویلي، په دوحه کې روان مذاکرات د ارګ او طالبانو ترمنځ دي او په افغانستان کې یې د جګړې پر ډګر هېڅ راز اغېز نه دی کړی او افغانان یې خپلو هیلو ته نه دي نږدې کړي. حکمتیار دغه راز په دې خبري غونډه کې د حکومت پر بې کفایتۍ هم نیوکې وکړې او په خبره یې د حکومت د کمزوري مدیریت له امله په هېواد کې نا امني ډېره شوې او هره ورځ جنایي پېښې او ورانکاره ډلې د افغانانو ژوند اخلي. د ده په خبره، حکومت خپل مسوولیتونه په سمه توګه سر ته نه شي رسولی او یا یې وړتیا نه لري، نو ښه به وي چې واک ولس ته پرېږدي.

له دې څرګندونو څو دقیقې وروسته د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي غبرګون ښودلی دی. نوموړي ویلي، حکومت د بیان ازادۍ ته درناوی لري، خو ګلبدین حکمتیار په تېرو څلوېښتو کلونو کې تل د هر حکومت مخالفت کړی او په خبره یې، د نوموړي له خبرو سره اوس افغانان عادت شوي دي. د صدیقي په وینا: ((موږ د بیان ازادي لرو. د هر سیاسي جهت خبرو ته ارزښت ورکوو، خو ښاغلی حکمتیار په تېرو څلوېښتو کلونو کې بل څه نه لري، یوازې د حکومتونو مخالفت کوي او اوس یې خلک هم له خبرو سره بلد شوي دي)).

په افغانستان کې سیاسي فضا داسې مهال له ناندریو ډکېږي چې په دوحه کې هم افغان مذاکرات له نامعلوم برخلیک سره مخ دي. دلته په هېواد کې د جګړې ډګر تود دی، خو هلته مذاکرات لا تر اوسه پر تګلاره توافق ته نه دي نږدې شوي. د نړیوالې ټولنې او ګڼو هېوادونو له غوښتنو سره سره تاوتریخوالی نه دی کم شوی، مذاکرات مخ ته نه ځي او جګړې بیا هره ورځ د ملکي افغانانو ژوند اخلي چې دې هر څه لویې اندېښنې پیدا کړې دي.

# ملګري ملتونه: تر دریو میاشتو به د اټومي وسلو د بندیز نړیوال تړون عملي کول لازمي شي

ملګري ملتونه وایي، د اټومي وسلو د بندیز نړیوال تړون عملي کول به درې میاشتې وروسته د راتلونکې جنورۍ میاشتې له ۲۲مې لازمي شي. د دغه تړون هوکړه د اکتوبر په ۲۴مه هونډوراس هم تصویب کړه او درې میاشتې وروسته به یې اجرا لازمي شي. په ورته وخت کې د سره صلیب نړیوالې کمېټې مشر پیټر ماورر دا کار د بشریت بریا بللې ده.

دغه راز د تړون د لازمي کېدو خبره د اټومي وسلو د له منځه وړلو نړیوال بنسټ یا (ای.سي.اي.ان) هم کړې ده. د دغه بنسټ اجرایي مشرې بیاتریس فېن، چې ائتلاف یې په ۲۰۱۷ ز کال کې د نوبل جایزه هم ګټلې وه، ویلي چې د اټومي وسلو د بندیز تړون داسې مهال لازمي کېږي چې د جاپان پر هیروشیما او ناګاساکي ښارونو د امریکا د اټومي برید ۷۵ کاله پوره شول.

مېرمن فېن ویلي، سږ کال د ملګرو ملتونو هغه سازمان هم پنځه اویا کلن شو چې اټومي بې وسلې کول یې له بنسټیزو کارونو څخه وو. د دې په وینا، دا چې ۵۰ هېوادونو د اټومي وسلو د بندیز تړون تصویب کړی، په دې مانا دی چې اټومي وسلې نه یوازې غیر اخلاقي، بلکې ناقانونه کار دی.

د یادونې ده چې د اټومي وسلو د بندیز د نړیوال تړون طرحه په ۲۰۱۷ ز کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ۱۲۲ هېوادونو په تایید تصویب کړه. دا تړون د اټومي وسلو هر ډول استفاده، پراختیا، تولید، ازمایښت، ځای پر ځای کول، زېرمه کول او ګواښ بندوي، خو تراوسه د اټومي وسلو لرونکو یو شمېر هېوادونو لکه امریکا، برېټانیا، فرانسې، چین او روسیې دغه تړون نه دی لاسلیک کړی. په ورته مهال امریکا د اټومي وسلو د محدودیت او کنټرول په اړه د روسیې وروستي وړاندیز منلی دی. د امریکا متحده ایالاتونه وایي، وروسته له هغې چې روسیې یې د نوي وړاندیز ملاتړ وکړ، چمتو دي چې سمدستي له دغه هېواد سره د هغې موافقې پر وروستي کولو خبرې وکړي چې له مخې یې د دوی ترمنځ د نیوسټارټ په نوم تړون د یوه کال په مخه غځول کېږي.

روسیې د امریکا د دې وړاندیز ملاتړ کړی چې د اټومي سروکو ټولې وسلې به کنګل کړي که واشنګټن هم ورته کار وکړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې په یوه لنډ بیان کې ویلي، د روسیې دغه لېوالتیا چې د اټومي وسلو د کنټرول لپاره یې ښکاره کړې، ستایي.

هغې زیاته کړې، متحده ایالتونه چمتو دي چې سمدستي په دې اړه له روسیې سره خبرې وکړي او یوه موافقه وروستۍ کړي.


## د کتـــاب خبـــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها

◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د استخباراتو تصادفي مشر




سېنها: دا لومړی ځل نه دی چې ته په ISI کې د خپل وخت په اړه خبرې کوې، که لومړی ځل دی؟

دوراني: د هندیانو ترمنځ یو شی شریک دي، دوی که د پاکستان ملگري او که یې دښمنان دي، خو هېڅ شی یې دومره نه شي خوشاله کولی، لکه د ISI یو پخواني غړی چې خبرو ته کېنول شي. دوه ځله همدا کیسه وشوه. لومړی ځل په (۲۰۰۴. ز)کال په ډېلي کې د پگواش په کنفرانس کې او وروسته بیا په لندن کې د تهلکا په ناسته کې. تارون تیجپال او د هغه خور چې پلار یې پخواني پوځي و، ما ته یو ښه گروپ ښکاره شو. خو پر ستېج په دواړو مواردو کې، کله چې دوی له ما د څه ویلو پوښتنه کوله، داسې ښکارېده لکه ما چې حتماً هند ته نفوذیان لېږلي وي.

څنگه له دې شرمه ځان خلاصوې یا څنگه له هغه دفاع کوې؟ ما به خبره نرموله او ویل به مې تاسې ناسم پوه شوي یاست. موږ نفوذیان نه درلېږل، خلک مو درلېږل ځکه ستاسې د وېزې رژیم ډېر سخت و، موږ هغوی له خلکو سره د خلکو د اړیکو لپاره درلېږل. ورشئ له دوی سره وگورئ او خبرې ورسره وکړئ.

دولت: جنرال صېب ډېره پر ځای خبره وکړه، په استخباراتو کې هېڅوک د هېچا کس هم نه دی. ماته هر وخت د ډاکټر فاروق عبدالله کس ویل کېدل، څه چې زه تصادفاً ستاینه گڼم. کله چې ( اېن سي) د (۲۰۰۲. ز)کال د ملي شورا ټاکنې وبایللې، زه تر ټولو پست کس وبلل شوم. زه وروسته د برجیش مېشرا ملاتړی وبلل شوم او معمولا د شمالي بلاک په ناسم لوري کې گڼل کېدم.

### ۳
### د ژغورنې لپاره وروري

دوراني: کله چې تاسې د پاکستان پر خلاف د دښمنۍ د نه شتون یادونه وکړه، ما د یوې کیسې په اړه فکر وکړ چې باید د دې کتاب برخه شي. دا کیسه د هغه مهال ده چې د (۲۰۱۵. ز) کال په مې میاشت کې زما زوی عثمان په هند کې گیر شوی و او وروسته دولت او یو شمېر نورو همکارانو وژغورلو.

دولت: زه د ماښامنۍ لپاره د شپې په (۱۱) بجو له کوره د باندې وتلی وم چې جنرال صېب زنگ راته وکړ. دی یو څه پرېشانه ښکارېده.

دوراني: عثمان د هغې کمپنۍ په استازولۍ چې دی کار ورسره کوي په (کوچي) کې و. دا هغه کمپنۍ ده چې ده یې په جرمني کې په بنسټ ایښودو کې ونډه درلوده او اوس یې په هند کې دفتر پرانیستی و. د کمپنۍ د سافټ ویر د یوې برخې د مشر په توگه عثمان د یوې اونۍ لپاره هند ته تللی و، چې نوي کسان وگوماري او د نوې ډلې ترمنځ د ټیمي کار روحیه رامنځته کړي. دا داسې کلتور دی چې په ډېرو ځایونو کې نه شته، له همدې کبله ده چې یوه کمپنۍ یوازې د تولیداتو له کبله نه بریالۍ کېږي، بلکې د گډ کار فضا هم مهمه ده. هغه لاره چې جاپانیان یې کاروي.

ستونزه دلته وه چې زما زوی هند ته په پاکستاني پاسپورټ تللی و. سره له دې چې هغه له شلو کلونو راهیسې په جرمني کې اوسي او (۱۵)کاله کېږي چې له دې کمپنۍ سره کار کوي، تر اوسه یې پاکستانی پاسپورټ ساتلی دی. هغه وایي چې یو وطنپال پاکستانی دی.

د کوچي پولیس د ده په لیدو حیران شوي وو. ورته ویلي یې وو( ته پاکستانی یې، ځومره ښه چې ومو لیدلې.) دوی ډېر خوشاله وو چې پاکستانی گوري، ځکه دوی تر دې وړاندې کوم یو نه و لیدلی. هغوی اردو ژبې هم نه وو، ځکه زوی مې په انگریزي خبرې کولې. یو چا ورته ویلي وو چې بل ځل راتلې مېرمن او کورنۍ دې هم درسره راوله. موږ غواړو پاکستانۍ ښځه هم ووینو.

د دې سفر پر مهال هغه خپل کار په څلورو پنځو ورځو کې خلاص کړی و. غوښتل یې له ممبیي نه پرواز وکړي. د دفتر خلکو هغه ممبیي ته لېږلی و، له بد نیته نه، بلکې نه پوهېدل. دوی نه پوهېدل چې پر پاکستاني پاسپورټ راغلي کسان باید ځانگړی پروسیجر تعقیب کړي. دی باید له هغه ښاره تللی وای، چې ویزې یې اجازه ورکوله. دوی تر دغه مهاله یوازې د جرمني پاسپورټ لرونکو کسانو سفرونه تنظیم کړي وو، چې یوازې یې راجستر غوښت او نور یې پرواز کولی شوای. دوی نه پوهېدل چې د پاکستاني پاسپورټ لرونکی باید د پولیسو مرکز او ( د بهرنیانو د سیمه ییز راجستر دفتر) ته ورشي. دغه راز کله چې له هېواده وځي، باید دواړو دفترونو ته د سپیناوي لپاره مراجعه وکړي.

د ممبیي په هوایي ډگر کې د کډوالۍ د برخې چارواکو ورته ویلي وو، چې ستا وېزه خو یوازې د کوچي لپاره ده، په ممبیي کې څه کوې؟ له هوایي ډگره ایستل شوی و. وروسته یې ماته د مشورې او مرستې لپاره زنگ ووهلو. دغه راز یې غوښتل چې زه په ډېلي کې زموږ له عالي کمېشنر عبدالباسط سره خبرې وکړم. ما بیا دولت ته ټلیفون وکړ.

دوام لري...

# کونړ

حشمت الله نوري

کونړ د افغانستان یو غرنی ولایت دی، چې د هېواد په ختیځ کې موقعیت لري. دغه ولایت د شمالي عرض البلد د ۳۵ درجو په کرښه کې پروت دی، شمال- ختیځ ته یې نورستان، سوېل ته یې ننگرهار، لوېدیځ ته یې لغمان او ختیځ ته یې ډېورنډ کرښه ده، چې هاخوا د مومندو او باجوړ ایجنسۍ پرتې دي او قبایلي مومند او سالارزي قومونه په کې ژوند کوي.

کونړ د (لرغونی او اوسنی کونړ) کتاب پر بنسټ، یوه نورستانۍ کلمه ده، چې مانا یې د ښون یا زیتون دره ده. کونړ پخوا د ننگرهار ولایت حکمراني وه، چې په شاهي دولت کې په ۱۳۴۴ لمریز کال کې په ولایت بدل شو، چې دا مهال د مرکز اسعداباد په گډون، ۱۵ اداري واحدونه خاص کونړ، نورگل، څوکۍ، نرنگ، سرکانو، مروره، شیگل، دانگام، اسمار، غازي اباد، ناړۍ، وټه پور، ماڼوگی او چپه دره ولسوالۍ لري. په کونړ کې ۱۳ لوی قومونه: ساپي، سالارزي، مشواڼي، شینواري، مومند، ترکاڼي، الکوزي، مومند، بزرگخېل، ملاگوري، سرکاڼي، گجر او کوهستاني ژوند کوي.

**کلتور**

په کونړ کې د فرهنگي هڅو پیل د رسا ادبي او فرهنگي ټولنې لخوا د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په غیر رسمي توگه پیل شوي دي، چې یادې ټولنې په ۱۳۸۰ لمریز کال کې په مرکز اسعداباد کې په رسمي توگه فعالیت پیل کړ، چې د کونړ ولایت د ټولو سیمو شاعران، لیکوالان، فرهنگیان او د ادب مینه وال په کې راټول شول. ورپسې ادبي او کلتوري ټولنه، اخلاص ادبي او فرهنگي ټولنه، د لوستو ځوانانو ټولنه، د ځوانانو اصلاحي ټولنه، شپول ادبي ټولنه او ځینې نورې چې دا مهال په کونړ کې د ۱۸ ادبي او فرهنگي ټولنو په گډون په مرکز او ولسوالیو کې یادې ټولنې فعالیت کوي چې هره یوه یې د ځوانانو د پرمختگ او د ټولنې د اصلاح لپاره کار کوي. په کونړ کې د کونړ سیند په نوم کلنۍ مشاعرې هم له تېرو څلورو کلونو راهیسې پیل شوې دي، چې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو او له کرښې هاخوا فرهنگیان او شاعران په کې گډون کوي.

په کونړ کې دوه دولتي کتابتونونه چې د اطلاعات او کلتور ریاست په چوکاټ کې دي، ډېر د مطالعې مینه وال ورځې او همدارنگه ۱٦ کتابپلورنځي هم په دغه ولایت کې فعالیت کوي، چې تازه چاپ شوې مجلې او کتابونه ورته په وخت ورسېږي. په دغه ولایت کې لرغوني اثار شته، خو د ساتنې لپاره یې موزیم نشته.

په کونړ کې د انگلیسي ژبې د زده کړې ۷ مرکزونه دي، چې یو یې یوازې د نجونو دی، ۸ د کمپیوټر د زده کړې مرکزونه، ۳ د تېکواندو او ۳ د بدن ښکلا ورزشي کلبونه هم شته. په کونړ کې خلک سندرې خوښوي، خو سندرغاړي ته په کې تر ډېره په ټیټه سترگه گوري، نو له همدې امله په کونړ کې د سندرغاړو هېڅ کومه ډله نشته، چې کله هم کوم ځانگړي ښوک د واده لپاره د ټنگ ټکور پروگرام کوي، نو له ننگرهاره یې را غواړي. په دغه ولایت کې یوازې د لوی او کوچني اختر ورځې په ډېرو ساده مراسمو سره لمانځل کېږي.

**مشاهیر**

دغه ولایت ډېر مهم اجتماعي او هر اړخیز علمي او سیاسي شخصیتونه په ځان کې روزلي او د علم، هنر او ادب له پلوه یې هېواد ته ډېر کادرونه وړاندې کړي دي، چې مهم هغه یې علامه سید جمال الدین افغان، سید شمس الدین مجروح، سید بهاوالدین مجروح، کشمیر خان، میرزمان خان، پروفیسور رسول امین، وکیل عبدالخالق اخلاص، سلطان محمدخان، ملک محمدزرین، وحیدالله سباوون، شېخ جمیل الرحمن، مولوي نورجلال، سیدمحمود پاچا، مستوره شال، وکیل محمدهاشم، محکم خان، وکیل غلام محمد، جلال خان، شاه محمود میاخېل، پوهان رازقي نړیوال، گل نبي ساپی، شمس الهدا شمس، مولوي محمدهاشم منیب، مولوي شهزاده شاهد، حاجي سخي مشواڼی، صالح محمد صالح، رفیع الله حیدري، محمد امین، گلبهار جلال، وږمه ساپی، شجاع الملک جلاله، محمدروزي، داوود جنبش، وکیل صدیق، فرید ماموندزی، جنرال سردار باجوړی، عبدالکبیر ستوری، عبدالله غمخور، عبدالرشید جلیلي، صاحب حق، عبدالهادي خلیلزی، میراعظم گجروال، جانداد، صاحب الرحمن او مفتاح الدین ساپی دي.

**رسنۍ**

په کونړ کې لومړنۍ چاپي جریده د کونړ په نوم ده، چې د ببرک کارمل د واکمنۍ پر مهال خپرېده. د کونړ دولتي راډیو په ۱۳٦۲ لمریز کال کې تاسیس شوه او د کونړ ټلوېزیون په ۱۳٦۴ لمریز کال کې په خپرونو پیل وکړ. د ځلا په نوم لومړنۍ خپلواکه راډیو وه، چې په ۲۰۰۷ کال کې یې په خپرونو پیل وکړ، همدارنگه بدلون او نښتر اېف اېم راډیوگانو په ۲۰۱۰ کال کې فعالیت پیل کړ. کونړ مجله چې دولتي خپرونه ده، لومړنۍ گڼه یې په ۱۳۷۸ لمریز کال کې چاپ شوه، ورپسې ستوری، خوځښت، غنچه، سپرغۍ، روزنه، لوپټه، کونړ غږ، افاق، غزا، چغان، سیمه، فکري یون او کرکټ مجلې دي چې دا مهال له کونړه خپرېږي. کونړ، کونړ ځوانان، رغاونه، ځلا، اسعداباد، ځار، شېبه، اخلاص، ځوان یون، ولس ارمان، بدلون او ځینې نورې جریدې په پرلهپسې ډول له چاپه راووتې، چې په دې کې هم ډېری د لنډمهال لپاره وې او ځینې یې اوس هم چاپیږي. په دغه ولایت کې ملي ټلوېزیون، لمر، طلوع، اریانا او د شمشاد ټلوېزیون خپرونې هم بروډکاسټ کېږي. ازادي راډیو، مشال، بي بي سي، ډیوه، ارمان او اراکوزیا راډیوگانې په اېف اېم څپو کې خپرونې کوي او په کونړ کې په ۱۳۹۱ لمریز کال کې ټلوېزیوني کیبلي خپرونې هم پیل شوې.

**پوهنه**

په کونړ کې دا مهال له ۴۷۱ ښوونځیو یې ۲۳۹ لومړني دي، چې له دې ډلې یې نهه د هلکانو، ۴۲ یې د نجونو او ۱۸۸ یې گډ دي. ۱۰۷ یې بیا منځني ښوونځي دي چې ۳۲ یې د هلکانو، ۳۱ د نجونو او ۴۴ یې گډ دي. ۷۸ یې بیا لیسې دي چې ۲۳ یې د نجونو او ۱۳ یې گډې دي، چې په دې ټولو ښوونځیو کې ۱۵۹۷۰۷ زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي. د یاد شمېر زده کوونکو له جملې ٦۵۷۲۹ یې نجونې دي او ۳۸۲۵ ښوونکي لري، چې ۱۸۰ یې ښځینه دي. دغه ولایت اته تخنیکي او مسلکي لیسې لري، چې ۷۸۵ زده کوونکي په کې زده کړې کوي. ۳۳ دیني مدرسې لري چې ۸۹۸۴ طالب‌العلمو ته په کې د ۲۴۰ مدرسینو لخوا زده کړې ورکول کېږي. د نالوستو لپاره د لیک لوست ۱۴٦۱ کورسونه لري، چې ۳۴۸۰۰ د بېلابېل عمر کسان په کې د لیک لوست زده کړې کوي، چې ۲۰۰۹۵ یې ښځینه دي. درې خصوصي لیسې لري چې ۴۷۰ زده کوونکي په کې زده کړې کوي، یو عالي دارالمعلمین دی او پنځه حمایوي ځانگې لري چې ټول ۱۰۲۰۹ زده کوونکي لري، چې ۹۵ یې نجونې دي او د ٦۵ ښوونکو لخوا ورته تدریس کېږي. د کونړ پوهنتون چې د سیدجمال الدین افغان په نامه یادیږي، په ۱۳۸۹ لمریز کال کې تاسیس شوی او څلور پوهنځي (شرعیات، کرنه او مالداري، کمپیوټر ساینس او ښوونه روزنه) لري. دا پوهنتون ۱۲۲۵ محصلین لري چې اووه یې نجونې دي او د ۵۸ استادانو لخوا ورته تدریس کېږي او لومړۍ دوره فارغین یې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې ورکړل. له دې پوهنتون څخه تر اوسه پورې د ماسټرۍ او یا هم د د کتورا لپاره استادان کومو بهرنیو هېوادونو ته نه دي لېږل شوي.

**کرنه**

کونړ چې یو غرنی ولایت دی او د کرنې لپاره وړ او مناسبه ځمکه کمه لري او غرونه یې د هېواد په کچه اصلي د نښترو (چهارتراش) بې ساري ځنگلونه لري، نو پر دې سربېره، د ښون (زیتون)، څېړۍ او نور ډول ډول د سون لرگیو ځنگلونه هم لري. د دې تر څنگ، د دغه ولایت غرونه په مېوه لرونکو ونو لکه گورگورې، ټیټاقې، شینۍ، چهارمغز او تورو املوکو هم په قدرتي ډول پوښل شوي، چې د مېوو حاصلات یې په کال کې یو ځل دي. د کونړ په کرنیزو ځمکو کې جوار، غنم، اوربشې او شولې کرل کېږي، چې د کونړ د خلکو اړتیا نه شي پوره کولای او زیات خلک یې پر مالدارۍ او سوداگرۍ بوخت دي.

**کانونه**

په کونړ کې پر قدرتي ځنگلونو سربېره، کانونه هم شته چې د پېچ درې په ولسوالیو (ماڼوگي او چپه دره) کې د قیمتي ډېرو (بیروچ) کانونه ډېر زیات دي، چې هر څوک یې په خپل سر او غیر فني توگه استخراجوي او بهرنیو هېوادونو ته یې قاچاق کوي. په خاص کونړ او سرکانو ولسوالیو کې د یو بل ډول قیمتي ډېرو (کرومایټ) کانونه هم موندل شوي، چې په اوسپنه جوړېدو کې ترې کار اخېستل کېږي، چې دا هم په قاچاقي توگه کیندل کېږي.

**لاسي صنایع**

په کونړ کې لاسي توکي ډېر نه جوړېږي، کلونه وړاندې د ډېرو کمو خلکو لخوا د گډو له وړیو څخه لېمڅي او د وزو له وژغنو څخه ټغرونه جوړېدل، چې اوس دغه رواج هم له منځه تللی. یوازیني لاسي توکي چې اوس په کونړ کې جوړېږي، هغه د اهنگرانو لاسي توکي لکه چاقو، لور، تبرگی او په دې ډول ځینې نور هغه دي.

**ورزش**

ورزش له ډېر پخوا راهیسې په کونړ کې دود دی، خو نړیوالو او عصري ورزشونو د پخوانیو هغو مخه تر ډېره حده نیولې ده، پخوا په کونړ کې خوسی، تیره اچول، توپ ډنډه، ډمې کول، والیبال، فوټبال او لامبو وهل وو، چې اوس هم په کلیوالو سیمو کې کېږي، خو په دې وروستیو کې کرکټ ډېر پرمختگ کړی، چې د نورو ورزشونو په پرتله ډېر مینه وال لري او حکومت هم ورته ډېره پاملرنه کوي. په کونړ کې درې د تېکواندو، درې د اندامونو ښکلا او یو د سوک وهنې کلب شته.

**اړتیاوې**

۱ـ د کونړ په لوی سیند د سره طاق په سیمه کې د برېښنا بند جوړېدل، چې ۲۰۰۰ میگاواټه برېښنا تولیدولی شي، د کونړ سیند دواړو غاړو ته د استنادي دېوالونو جوړېدل، په مرکز اسعداباد کې د کرکټ اساسي لوبغالي جوړېدل، د کونړ ناواپاس لار چې له پاکستان سره د قیر سړک په وسیله سره نښلول شوې، ترانزیټ کېدل او د سالارباغ د نجارۍ فابریکې بېرته ودانول به د دغه ولایت د اوسېدونکو پر ژوند خورا مثبت اغېز ولري.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦،۸۰ |
| € | ۹۰،۱۰ |
| Rp. | ٤۷٥ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰،٦۰ |
| £ | ۹۹،٥۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# د پوستکي د ښکلا ساتنې لپاره شپږ اړین ټکي

ژباړه: عایشه حیدري

دا چې د مخ پوستکی تل د لمر له وړانګو، سړې او تودې هوا سره مخ وي او په اسانۍ زیانمنېږي، نو ارومرو باید ور څخه ساتنه وشي. که د مخ پوستکي ته پاملرنه ونه کړو، نو ډېر ژر به د مخ د پوستکي ښکلا له لاسه ور کړو او پر مخ به مو ګونځې، لکې او تور داغونه را برسېره شي، خو څنګه د مخ د پوستکي ساتنه وکړو؟ او څنګه د لمر له سوځونکو وړانګو څخه د مخ پوستکی وساتو؟ څکه مونږ نه شو کولای د ژوندانه ورځنۍ چارې پرېږدو او ټول عمر په کور کېنو؛ نو څکه به په دې لیکنه کې تاسو ته ځینې هغه اسانه او ګټورې لارې چارې در وښیو، چې هم ستاسو پوستکی ښکلی ساتي او هم کولای شی په ډاډه زړه خپلې ورځنۍ چارې تر سره کړی.

لیکنه تر پایه ولولئ او د دې لیکنې په لړ کې له یادو شوو کړنو څخه د خپل پوستکي د ساتنې لپاره ګټه واخلئ!

لومړی: د لمر ضد کریم وکاروئ

وړاندې تر دې چې له کوره ووځی ارومرو مو د مخ پر پوستکي د لمر وړانګو ضد کریم ووهئ. د لمر وړانګو د ضد کریمونه نه یوازې په اوړي کې؛ بلکې د کال په ټولو فصلونو کې او هر کله چې له کوره وځی، وکاروئ. که د ورځې په اوږدو کې مو یو ځل د لمر ضد کریم وکاراوه، او بیا مو خپل مخ ومینځه، نو بویه یو ځل بیا د لمر وړانګو ضد کریم وکاروئ، څو مو بیا بیرون ته د کار کولو په موخه د لمر له سوځوونکو وړانګو سره ستاسې د پوستکې پر مخ کېدو مو د خپل پوستکي ساتنه کړې وي.

د دې تر څنګ، اړینه ده هغه کریم چې د لمر د وړانګو پر وړاندې د محافظت لپاره یې کاروئ ۳۰٪ SPF (Sun Protection Factors) یا د لمر د وړانګو پر وړاندې محافظتي فکټورونه او مواد ولري.

دویم: د خپل پوستکي ډول وپېژنئ

که چېرې غوړ پوستکی لری، د دې لپاره چې ستاسو د پوستکي سروکي بند نه شي، نو له هغو کریمونو او ماسکونو څخه کار واخلئ چې غوړې ونه لري، خو که چېرې وچ پوستکی لری، نو هڅه وکړئ چې له هغو ماسکونو او کریمونو څخه ګټه واخلئ، چې غوړ وي. که دا کار ونه کړی، ممکن د لمر له وړانګو زیات مو د مخ پوستکی همدغه کریم خراب کړي.

درېیم: ډېر خواږه خواړه مه خورئ

د ډېرو خوږو خوړو خوړل د وینې قند او یا شکر لوړوي، کله چې د وینې قند لوړ شي، د پوستکي د کلاجین Collagen سطحه ټیټېږي او د پوستکي ګونځې ډېرېږي. د دې تر څنګ د وینې د قند لوړوالی د دې لامل کېږي چې پوستکی مېکروبي شي او د دې لامل شي چې پوستکی کشال او تخریب شي.

څلورم: نشه يي توکي مه کاروئ

هغه څه چې پوستکي ته ډېر زیان رسوي، له نشې پرته بل څه نه دي، د سګرېټ او نورو نشه يي توکو استعمال د انسان پوستکی لس کاله وړاندې او یا هم له لسو کلو څخه ډېر زړوي. د سګرېټ څکول د پوستکي د نازکۍ او کمزورتیا لامل ګرځي او په پوستکي کې ګونځې را منځ ته کوي.

پنځم: له سينګار سره مه ویده کېږئ

وړاندې تر دې چې د خوب ځای ته لاړ شي، خپل مخ ارومرو په سمه توګه ومینځئ او د خپل مخ له پوستکي څخه هر ډول اضافي (بېکاره) مواد لرې کړئ.

که چېرې مو سینګار نه وي کړی، بیا هم مخکې له خوب څخه خپل مخ ومینځئ، څکه کېدای شي د ورځې په اوږدو کې ستاسو په مخ دوړې او خاورې ناستې وي. هڅه وکړئ چې ارومرو د خپل مخ پوستکی ومینځئ ان تر دې چې کولای شی په یوه لامده څپوڼي (دستمال) خپل مخ پاک کړئ او د خپل مخ پوستکي ته دا اجازه ورکړئ چې په اسانۍ سره ساه واخلي. خو هېر مو نه شي چې د مخ پاکولو لپاره تر ټولو ښه لاره په اوبو او صابون د مخ مینځل دي.

شپږم: د سینګار او روغتیایي توکو نېټې ته پام وکړئ

دا مو هېر نه شي چې خواږه، سینګار توکي، درمل او ډېر نور شیان چې مونږ یې په ورځني ژوند کې کاروو، ځانګړې نېټه لري چې تر هغې نېټې وروسته یې کارول، روغتیایي ستونزې زېږولی شي. ځینې سینګار توکي یوازې د دریو میاشتو لپاره د ګټې اخیستنې وړ دي او وروسته له دریو میاشتو څخه باید لرې وغورځول شي، څکه چې له نېټې اوښتي توکي د انسان پوستکي ته ډېر زیان رسولای شي. د سینګار توکو تر څنګ، ځینې نور توکي لکه صابون، شامپو او داسې نور هم خپلې ځانګړنې لري او باید د دغو توکو د اخیستلو او مصرفولو پر مهال پاملرنه ور ته وشي.

په پای کې باید ووایو چې د پوستکي د ساتنې تر څنګ، د ښو او وړ خوړو خوړل لکه د مېوو او سبزیو خوړل او همدارنګه ورزش کول او د ډېرو اوبو څښل هم کولای شي ستاسو د پوستکي په ساتنه کې له تاسو سره ډېره مرسته وکړي.

## خلیلزاد: حکومت او طالبان دې د روان وضعیت د پای ته رسېدو لپاره ژر تر ژره سیاسي جوړجاړی وکړي

د افغان سولې په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد وایي چې امریکا پر دواړو غاړو«افغان حکومت – او طالبانو» فشار راوړي چې تاوتریخوالی کم کړي. نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي چې د امریکا متحده ایالتونه پر یاد هدف د تمرکز لپاره فشار راوړي چې دواړه غاړې ژر تر ژره د سولې لار پیدا کړي. هغه زیاته کړې: «متحده ایالتونو په ځانګړې توګه پر دغه هدف تمرکز کړی او پر دواړو غاړو فشار اچوي چې اورکم کړي او ژرترژره د سولې لار ومومندي.»

نوموړی داسې مهال دا څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې د مرګ ژوبلې د پېښو راپورونه زیات شوي دي. د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په ټینګار سره ویلي چې د روان وضعیت پای ته رسېدو ځواب یوازې په اوربند ټینګېدو کی دی. د هغه په خبره:



«د دغو غمیزو حالاتو ځواب په بېړني اورکم کېږي، چې د ټولو غاړو لخوا د اوربند سبب وګرځي. ځواب دا دی چې یوه سیاسي جوړجاړي ته بېړه وشي.»

نوموړي دغه څرګندونې په تخار ولایت کې پر یوه جومات د افغان ځواکونو وروستي هوايي برید او د افغانستان په نورو سیمو کې د طالبانو ډله‌ییزو او ځانمرګو بریدونو او ماین چاودنو ته په اشاره کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د بشري حقونو کمېسیون په وینا، په تخار کې تېره اونۍ پر یوه جومات د افغان ځواکونو په هوايي برید کې ۱۲ ماشومان ووژل شول او د ملا امام په ګډون ۱۸ ټپیان شول.

بلخوا وروسته ورځ په کابل او غزني کې ماین چاودنې او ځانمرګي برید ۳۳ ملکي وګړي ووژل او لسګونه نور یې ټپیان کړل. یوناما هم په کابل کې د ورمې ورځې ځانمرګی برید غندلی او جنګي جنایت یې بللی دی.


## قریشي: په بین الافغاني خبرو کې پرمختګ د تاوتریخوالي کمولو او اوربند ته لاره هواروِلی شي

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر وایي، د سولې په بین‌الافغاني خبرو کې پرمختګ په افغانستان کې تاوتریخوالی کمولی او اوربند ته لار هوارولی شي.

دا په داسې حال کې ده چې په دوحه کې د سولې خبرو له پیله نږدې یوه نیمه میاشت تېرېږي، خو نه یوازې دا چې په خبرو کې د پام وړ پرمختګ نه‌دی شوی، بلکې جګړه هم ورسره ډېره شوې ده.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر اوس د دغې جګړې د سړېدو او درېدو لپاره د دوحې په خبرو کې پرمختګ مهم بللی دی. شاه محمود قریشي دغه څرګندونې د افغانستان د ملي شورا له یوه پلاوي سره د لیدو پر مهال په اسلام‌اباد کې کړې دي.

د ولسي جرګې د مشر میر رحمان رحماني په مشرۍ دغه پلاوی په درې ورځني سفر پاکستان ته تللی دی. شاه محمود قریشي په دې کتنه کې د امریکا او طالبانو ترون تاریخي فرصت یاد کړی دی.



د پاکستاني رسنیو په حواله، قریشي خبرداری ورکړی چې یو شمېر مخربې کړۍ په افغانستان کې د سولې او ثبات مخه نیسي، خو دا یې نه دي ویلي چې دا کړۍ کومې دي.

په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم دې موضوع ته په اشارې ویلي، چې دا باور ډېر خطرناک دی چې د سولې خبرو کې د امتیاز لپاره دې جګړه توده شي.

خو د طالبانو د قطر دفتر ویاند محمد نعیم بیا وایي، د دوی جګړې د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو عملیاتو ته غبرګون دی او بل کوم هدف نه‌لري. هغه زیاته کړې: «زموږ عملیات عکس‌العملي حالت لري، اصلاً بمباروونه، چاپې او تهاجمي بریدونه پر موږ زیات شوي، موږ یې څو عملي نښې ښودلی شو، په فراه کې چاپې وې، په بغلان کې چاپې وې، هلمند کې موږ څو ورځې جګړه درولې، خو مقابل لوری عملیات کوي، تخار کې چې کومه پېښه وشوه، دوی تهاجمي عملیات کول او بدخشان کې هم دوی د مجاهدینو ساحو باندې بمبار شروع کړی و، موږ دفاعي او عکس‌العملي حالت کې یو.»

خو دفاع وزارت بیا وایي چې د دوی ځواکونه په دفاعي حالت کې دي او طالبان تورنوي چې جګړو ته‌یې زور ورکړی دی.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم پنځمه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲٦مه |٦۱۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۲۴ |
| ۳ | ۵ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٤ | لمر ختل ۰٦:۰۷ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:٤۳ | ماښام ۰۵:۰۸ | ماخوستن ۰٦:۳۲

## نړۍ



ملګري ملتونه: تر دریو میاشتو په د اټومي وسلو د بندیز نړیوال تړون عملي کول لازمي شي

۳

## اسراییل: زموږ له مخالفت سره سره، پر قطر د امریکایي ایف- ۳۵ جنګي الوتکو پلورل ممکن دي



د اسراییل د انرژۍ وزیر یووال سټاینیټز ویلي چې د دوی له مخالفت سره سره، پر قطر باندې د امریکایي اف- ۳۵ جنګي جت الوتکو پلورل ممکن دي.
هغه زیاته کړې: «زه شک نه لرم که هغوی (قطر) غواړي او پیسې ورکوي ژر یا وروسته به یې ترلاسه کړي.»
د هغه په خبره، د امریکا حکومت بالاخره د امریکایانو ګټو ته ګوري، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې د امریکا سیالانو روسیې او چین د خپلو جېټ الوتکو د خرڅلاو لپاره پټ وړاندیزونه کړي دي.
دا په داسې حال کې ده چې رویټرز اژانس د اکتوبر په اوومه رپوټ ورکړی و چې په نفتو بډایه هېواد قطر په رسمي توګه امریکا ته د ایف ۳۵ الوتکو د اخیستلو خبر ورکړی دی.
تر دې دمه په سیمه کې یوازې اسراییل دغه الوتکې ترلاسه کړې دي. اسراییل چې امریکا ورسره د دغه ډول معاملو په اړه مشوره کوي، ویلي چې پر قطر باندې د ایف- ۳۵ الوتکو له خرڅلاو سره به مخالفت وکړي.
وروسته له هغې چې عربي متحده اماراتو او بحرین د اسراییل سره اړیکې نورمال کړې، امریکایي چارواکو پر عربي متحده اماراتو باندې د ایف- ۳۵ جنګي جېټ الوتکو د خرڅلاو په هکله ښکاره ځرګندونې کړي، خو د قطر د معاملې په اړه چوپ دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له یو میلیون او ۱۵٦ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۴۳ میلیونو اوښتې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۱۵٦ زره او ۱۴ کسان مړه شوي او نږدې ۳۲ میلیونه ترې ښې‌رغه رغېدلي دي.
د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس د ورځنیو مثبتو پېښو شمېر د تېر اوړي د ورځنیو شمېرو پرتله زیات شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې د روغتیا نړیوال سازمان په همدې اونۍ کې وویل چې ورځنۍ پېښې به نورې هم زیاتې او خبرداری یې ورکړ چې په ملي او محلي کچو به روغتیایي سیستمونه تر فشار لاندې راشي. د کرونا زیاتېدونکې پېښې داسې مهال رامنځته کېږي چې ځینو حکومتونه یې د مخنیوي لپاره نوي اقدامات او هڅې هم عملي کړي دي. په امریکا کې په تېرو اتو ورځو کې په اوسط ډول هره ورځ د کرونا ۷۰ زره پېښې رامنځته شوې چې دا شمېرې د تېرې جولای میاشتې د ورځنیو شمېرو په پرتله زیاتوالی ښیي. د امریکا په ډېرو برخو کې دغه ویروس د پیاوړتیا مزل وهي او په همدې اکتوبر میاشته کې په منځني ډول هره ورځ اوه سوه کسان ترې مړه شوي دي.


## مشرانو جرګه: جامعهٔ جهانی در تعهدات شان با طالبان تجدید نظر کنند



مشرانو جرګه، ضمن تاکید بر پیش بُرد روند گفتگوهای صلح تا دست یافتن به نتیجهٔ مطلوب، از جامعهٔ جهانی خواست تا در تعهدات شان با طالبان تجدید نظر کنند؛ زیرا این گروه مخالف توافقنامهٔ قطر، هنوزهم دست به خشونت می زنند.
فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانوجرگه، در نشست دیروز این جرگه، از تعهد شکنی طالبان انتقاد نموده از هیات مذاکره کننده دولت جمهوری اسلامی افغانستان خواست تا با حوصله مندی کامل به پیش بروند وگفتگوهای صلح را به نتایج مطلوب برسانند.
وی از جامعه جهانی به خصوص ایالات متحده امریکا خواست تا در تعهدات شان با طالبان تجدید نظر کنند؛ زیرا این گروه خلاف توافقنامه قطر، هنوز هم دست به خشونت های کلان زده و روابط شانرا با گروه های دهشت افگن قطع نکرده اند.
وی افزود: «به اساس وعدهٔ امریکا با طالبان، حکومت افغانستان از خود انعطاف نشان داده و زندانیان طالب را رها ساخت و اکنون باید این کشور با در نظرداشت پیمان امنیتی موجود با کابل، در قبال مسایل جاری کشور بی تفاوت نماند یا دست به تصامیم پُشت پرده نزند؛ درغیرآن خیانت شان ثبت تاریخ و باورشان نزد جهانیان خدشه دار خواهدشد.»
شماری از اعضای این جرگه نیز گفتند باوجودی که گفتگوهای صلح در دوحه جریان دارد، ولی جنگ در نقاط مختلف کشور از سوی گروه طالبان به شدت شعله ور گردیده وتلفاتی به نظامیان وافراد ملکی وارد شده است.


## ژوند

## شیاومي نوی ځیرک موبایل معرفي کړ



شیاومي کمپنۍ خپل نوي پیاوړي ځیرک موبایلونه، مي ۱۰ ټي او مي ۱۰ ټي پرو، څخه پرده پورته کړه او دا د شیاومي کمپنۍ لومړني ۱۴۴ هرتز ریفرېش څخه ملاتړ کوونکي مخ‌پاڼه لرونکي ځیرک موبایلونه دي. د شیاومي کمپنۍ دغه ځیرک موبایلونه غوره ځانګړنې او د نورو کمپنیو د ورته ځانګړنې لرونکو ځیرکو موبایلونو څخه ټیټه بیه لري. په دواړو ځیرکو موبایلونو کې ٦,٦۷ انچه اېل سي ډي ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې ده. دغه مخ‌پاڼه له ۴۸ هرتز، عادي ویډیو لپاره ٦۰ هرتز، او ۹۰ او ۱۲۰ هرتز ریفرېش ربټ څخه هم ملاتړ کوي. په دواړو ځیرکو موبایلونو کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۸٦۵ ډوله پروسېسر ورکړل شوی او اندراېډ ۱۰ عامل سیستم سره به خرڅلاو ته وړاندې شي. دواړه ځیرک موبایلونه ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکي بېټرۍ لري او ۳۳ واټ چټک چارج څخه ملاتړ کوي. دواړه ځیرک موبایلونه ۵جي څخه د ملاتړ وړتیا، وایفای٦ او ای ار بلاسټر په څېر ځانګړنې او شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري.

## د رومي بانجانو د جوسو ګټې!



رومي بانجان له ګټورو خوړو څخه دي چې په ورځنۍ ډول یې مناسبه اندازه کارول انسان له مختلفو عادي او حتی د سرطان په څېر له وژونکو ناروغیو څخه خوندي ساتي. اوس څېړونکو موندلې چې د رومي بانجان بې مالګې جوس د ویني غوړ (مضر کلسټرول) او د وینې لوړ فشار کچه ټیټوي او په دې ډول د زړه له ناروغیو څخه مو خوندي ساتي. دغه څېړنه په فوډ ساینس او نیوټرېشن څېړنیزې مجلې کې خپره شوې ده. په دې څېړنه کې چې د توکیو مېډېکل او ډېنټل پوهنتون له لوري جاپان کې ترسره شوې، تقریباً ۵۰۰ تنو چې ۲۹۷ تنه یې مېرمنې او ۱۸۴ تنه یې نارینه وو، ګډون کړی و. له پایلو څرګنده شوه چې په ۹۴ تنه ګډون کوونکو کې د دغه جوس له څښلو وروسته د وینې لوړ فشار کې د پام وړ ټیټوالی ولیدل شو. د رومي بانجان له بې مالګې جوس کارولو څخه وروسته د دغو کسانو لوړ فشار په اوسط ډول له ۱۴۱,۲ څخه ۱۳۷ ته او ټیټ فشار یې له ۸۳,۳ څخه ۸۰,۹۰ ته ټیټه شوه. په ورته ډول ۱۵۵ تنه ګډون کوونکو کې د وینې مضر کلسټرول هم له ۱۵۵ څخه ۱۴,۹ ته ټیټه شوه.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اېپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

